UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**ملګري ملتونه د نړیوالې وبا په جریان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې دتاوتریخوالي د پای ته رسیدو په موخه د یووالي او ژمنتیا غوښتنه کوي**

**کابل، د ۲۰۲۰ کال د نوامبر۲۵مه** - د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو پر نړیواله ورځ، په افغانستان کې ملګري ملتونه پرتولو غړ کوي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي او ورته د رسیدنې په موخه خپلې هڅې په خاص ډول د کویډ۱۹ وبا د خپریدو په جریان کې، زیاتې کړي.

دغه نړیواله ورځ د جنسیت پراساس تاوتریخوالي پرضد په ۱۶ ورځنۍ کمپاین سره پیل کیږي او د ډسمبر پر لسمې نیټې چې د بشري حقونو نړیواله ورځ ده پای ته رسیږي. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو د نړیوالې ورځې د سږکال شعار "نړۍ نارنجي کړئ: تمویل، ځواب، مخنیوی او راغونډول!" – پردې تمرکز لري چې د کرونا وبا په لړ کې د جنسیت پراساس تاوتریخوالي ته دې د تګلارو پراساس پیاوړي ځواب ورکول چټک شي او د ټولنې په هره برخه کې دې د جنسیت پراساس تاوتریخوالي پر وړاندې، د نه زغم کلتور ته وده ورکړل شي.

کویډ۱۹ وبا د خوراکي توکو د کموالي، بیکارۍ، اقتصادي ستونزو او د ښوونځیو د بندښت په څیر ستونزې د ښځو او نجونو پر وړاندې لاهم زیاتې کړې دي. په نړیواله کچه، د نجونو او ښځو پر وړاندې د بیلا بیل ډول تاوتریخوالي کچه په اندیښمنونکې توګه زیاته شوې، او معلومات ښیي چې افغانستان هم په دغه برخه کې مستثنا ندی.

د نجونو او ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي عواقب د جنسي، رواني او فزیکي اغیزو په ګډون چې په ټولنه کې ددوی د بشپړ ګډون مخه نیسي، زیات او جدي دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې دیبرا لاینز وویل: " د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی نه یوازې پر هغه چا چې تاوتریخوالی یې تجربه کړی، بلکې د هغې پرکورنۍ او ټولنې منفي اغیز پرې باسي. دا چاره د بې وزلۍ د له منځه وړلو، دوامداره پرمختګ او د سولې پرلور هڅو پر وړاندې خنډ رامنځ ته کوي." هغه چې د یوناما مشره هم ده زیاتوي: " په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی د هیواد د نوي تاریخ په دغه ترټولو بحراني وخت کې ددوی د بشري حقونو او ازادیو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کوي."

د ویروس د خپریدو د مخنیوي لپاره په پام کې نیول شویو تدابیرو له زیانمنو شویو کسانو سره د مرستو رسولو په لاره کې اضافي خنډونه او خطرونه رامنځ ته کړي دي. چیرې چې خدمات شتون لري، له تاوتریخوالي څخه زیانمن شوی کسان، ډیری وختونه د ګرځیدلو د محدودیتونو، د خدمتونو په رسولو کې د خنډونو او د مرستې د محدودو فرصتونو له امله نشي کولای چې مرسته وغواړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداري مشرې، الیتا میلر وویل: " په نړۍ کې د ملیونونو خلکو لپاره کور د وژونکي ویروس څخه د خوندي پاتې کیدو لپاره په خوندي چاپیریال بدل شوی. خو د ډیرو میرمنو او نجونو لپاره کور داسې ځای دی، چې دوی په خپله د دوی له ناوړه ګټه اخیستونکو سره بندې پاتې شوې. نوموړې زیاته کړه: " له افغان میرمنو سره زموږ د ورځنیو خبرو اترو په اوږدو کې وښودل شوه چې، د میرمنو او نجونو په وړاندې د تاو تریخوالي کچه په پراخه توګه زیاته شوې. دجنسیتي توپیر له اړخه دکویډ ۱۹ د اغیزو په برخه کې هم زموږ اطلاعات ورته شمیرې په ګوته کوي."

لکه څرنګه چې دا د افغانستان لپاره یو بې ساری وخت دی، له افغان میرمنو سره زموږ پیوستون او د هغوی د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره زموږ ژمنې هم باید په ورته ډول بې ساري وي.

په افغانستان کې ملګري ملتونه له حکومت، مدني ټولنې، نا دولتي سازمانونو او پرمختیایي ملګرو سره کار کوي ترڅو د ښځو او نجونو پر وړاندې هر ډول تاوتریخوالي ته، د خدمتونو د چمتو کونکو او د تاوتریخوالي دمخنیوي په موخه دټولنیزو نورمونو دپروګرامونو دمستقیم ملاتړ او همدارنګه د کمپاینونو او عدالت غوښتنې له لارې رسیدنه وشي.

د ۱۶ ورځنۍ کمپاین په جریان کې د افغانستان حکومت چې د ملګرو ملتونو لخوا یې ملاتړ کیږي، د عدالت غوښتنې او پوهاوي لوړولو فعالیتونه ګړندي کوي تر څو د ښځو او نجونو پروړاندې تاوتریخوالي ته رسیدنه وشي.